د دفتر مشاور ارشد رئیس جمهوری
مردمی و سیاسی

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
په ولسي او سياسي چارو کې د جمهوري
رياست د ستر سلاکار دفتر

Islamic Republic of Afghanistan
Office of the Senior Advisor to the President in political and Public Affairs
د دفتر رياست

نېټه: ۱۴۰۰/۶/۱۰
ګڼه: ( ۰۰/ )

---

دا.ا.ا د چارو اداري محترم لوي رياست ته!

السلام عليکم ورحمته الله وبرکاته!

موضوع: په ولسي او سياسي چارو کې د ستر سلاکار او حزب اسلامي سره د سولې دتفاهم لیک د ګډ کمېسیون د دفتر د اجناسو تسليمي.

څرنګه چې د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه اعلان کړی چې دولتي جنسونه چې کومو اشخاصو پورې قيد دي هغه دې اړونده ادارو ته وسپاري په همدې موخه په ولسي اوسياسي چارو کې سترسلاکار او حزب اسلامي سره د سولې د هوکړه لیک د پلي کولو ګډ کمېسیون دفتر جنسونه چې د نوموړي کمېسیون کاري برخه په ۱۴۰۰ کال د ثور په میاشت کې پای ته ورسیده او بیا د (۶۵) ګڼې مکتوب په ۱۴۰۰/۲/۳۰نېټه د چارو اداري ته د موجوده جنسونو د موجودي او ثبت مکتوب د جدولونو سره یوځای چې د ګډ کمېسیون څخه مشاوریت دفتر ته انتقال شوي ول د چارو اداري لوي رياست ته د اطلاع په موخه ولېږل

په نوموړو جنسونو کې زاړه دفتري میزونه ، زاړې استعمال شوې څوکۍ ، استعمال شوي کمپیوترونه ،پرینټر ، استعمال شوي کوچونه ، زرهي دروازه ، زرهي غرفه ، مستعمل جنراتور ، او داشپز خاني سامان ، پکي ، بخاری ، تلويزونونه او یو شمیر الکترونیکي توکي شامل دي د شته دقیق لیست له مخې مو درسره شتون لري.

د پورته اجناسو د تسليمي په اړه هر وخت چې د اسلامي امارت د چارو اداري مشرتابه مناسبه وبولي موږ يې تسليمولو ته حاضر يو.

په درنښت

Serat
A

ادم خان سيرت

په ولسي او سياسي چارو کې د سترسلاکار د دفتر رئيس

---

پته ، کابل افغانستان تلیفون شمیره: ۰۷۰۰۶۳۱۸۶۰ ، adamserat@hotmail.com

PAJHWOK Afghan News